ډاکټرعبدالرحمن زماني                                                                 د ۲۰۲۰ کال د می ۹

## د یوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کیدو د معما په هکله:

### ځلورمه برخه – د نادر شاه د کورنی سره د ببرک خان ځدران د مناسباتو مؤقتي سوړوالي

سردار محمد نادر خان د کابل د نیولو په هلو ځلو کې د ۱۹۲۹ کال د مارچ له ۸ مې نیټې، چې د خوست له پولې د افغانستان خاورې ته ننوت، او د اکتوبر د میاشتې تر ۱۵ مې نیټې چې په بریالیتوب سره د هیواد پایتخت کابل ته ورسید، د (۷) اوه میاشتو او یوې اونۍ په موده کې د ډیرو تکلیفونو، کړاوونو، خنډونو، ماتو، نا امیدیو او پښیمانیو له پړاوونو تیر شو. د سخت وخت پدې تږوله موده کې د غازي ببرک خان کورنۍ په خاصه توګه د هغه دوه زامن، زمرک خان ببرکزي او شیرمحمد خان ببرکزي، هر راز سربښندونو سره د دوې تر څنګ ولاړ او مرسته کړې ده.

د سردار محمد نادر خان د لومړنیو ماتو او ناهیلیو په ترڅ کې د خوست د ځینو کړیو مخالفت او د لاري بندول، د وسلو د تقسیم په سر د ځدراڼو او منګلو د لښکرو لانجې، د دریخیلو ځدراڼو لخوا منځ ته راغلي مشکلات، د نادرخان سره د احمدزیو د خان جانداد خان د زوي غوث الدین خان پخواني عداوت، او د محمد صدیق خان او په سور جرنیل مشهور محمد عمر خان تر مشرۍ لاندې د حبیب الله کلکاني د قواوو مقاومت په شان مختلف عوامل د یادونې وړ دي.

**د سردار محمد نادر خان په پټو اهدافو او ارتباطاتو ناخبري**

د ببرکزي کورنۍ د سردار محمد نادر خان په اصلي مقاصدو او پټو ارتباطاتو خبره نه وه. د انګریزانو د آرشیف د استخباراتي رپوټونو په شهادت، سردار محمد نادر خان پدې موده کې څو ځل له انګریزانو د وسلې، پیسو او د ډیورنډ د کرښې د بلې خوا قومونو د لښکرو د اجازې د مرستې په شمول پټې غوښتنې کړې دي، چې یو څو مثالونو ته یې په لاندې ډول اشاره کوو:

- د ۱۹۲۹ م کال د مارچ د میاشتې په ۲۹ مه نیټه د صاحب زاده شیخ محمد صادق خان په لاس د «بنو» د کمشنر د معاون په نامه د لیک او شفاهي پیغام استول چې هغه شخصا د انګریزانو سفیر «همفریز» ته ورکړي. او د دغه پیغام د محتوی په هکله د همفریز څرګندونې چې نادرخان تري د پروګرام د دوام د پاره د پیسو غوښتنه کړې وه.
- د اپریل په میاشت کې د ایبنر Ebner د شرکت د استازي، ایم ای حکیم په لاس د شمال لویدیز د سرحدي ایالت د عمومي کمشنر په نامه د څو لیکونو استونه او په هغه کې د لس زره روپیو د ورکولو غوښتنه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- د مي په میاشت کې د ایم ای حکیم په لاس د انګریزانو د ختیزو چارو سکرتر شیخ محبوب علي ته د پیغام استول، د پیسو غوښتنه او د سفیر همفري د پاره په شفر کې د یوه پیغام لیږل چې په هغه کې په اروپا کې هغه ته د ورکړ شوو وعدو د تر سره کولو د وخت د رارسیدو یادونه او د لښکرو د خوراکي اړتیاوو د پوره کولو د پاره د دوه لکه هندي روپیو د سملاسي ورکړې غوښتنه.
- د جون د میاشتې په دوهمه نیټه د کورمې پولیټیکل ایجینټ ریچارد مکوناچې Richard Roy Maconachie ته د سردار احمد علی خان استول او د نورو پیسو او وسلو غوښتل.
- د سپتمبر په میاشت کې پاړه چنار کې د انګریزانو پولیټیکل ایجنټ ته د حاجي محمد اکبر خان په لاس د لیک استول او په افغانستان کې د لښکرو د تنظیمولو د لومړنیو اړتیاوو د پاره د پیسو غوښتنه.[1]

**په سختو او ستونزو کې ملګرتوب**

د کابل په نیولو کې د سختیو یوه بیلګه د غازي ببرک خان د کورنۍ په اسنادو کې په لاندې ډول راغلې ده:

«جنرال محمد نادر خان د لویې پکتیا له خوست څخه د ګردیز په لورې په داسې حال کې حرکت وکړ چې د پکتیا د نورو قامونو لکه د ځاځیو، منګلو، تنیو، ځدرانو، شمکنیو، او صبریو لښکرې ورسره وې. دا قامي لښکرې، قامي مشران او په خپله جنرال محمد نادر خان له خپلو ورسره ملګرو سره چې د پکتیا ګردیز ته ورسیدل، نو د احمدزیو د مشر جانداد خان کور ته ورغلل.

جنرال محمد نادر خان له خپلو دریو تنو ملګرو سره د هغه کورته ننوتل او نورې قامي لښکرې د جانداد خان احمدزي د کور د باندې د کلي په جوس کې منظمې کیناستې. له زمرک خان ببرکزي سره د خپل قام (۳۰۰۰) درې زره تنه لښکر موجود و او له خپل مشر زمرک خان ببرکزي سره یوې څنډې ته کیناستل.. له جانداد خان احمد زی سره د جنرال محمد نادر خان خبرو اترو تر زیاتې شیبې پورې دوام وکړ تر څو د پکتیا د نورو قامونو لښکرې په انتظار ستړې شوې او د خلکو په ګڼه ګونه کې خوږ پورته شو دا ځکه چې جانداد خان احمد زي جنرال محمد نادر خان پر مخ باندې یوه سپیره وهلې او ورته ویلي یې وو چې د کابل د تخت د بیا نیولو په هلو ځلو کې زما اووه (۷) ورونه په توپونو الوزول شوي او ټوټې ټوټې شوي دي، خو اوس ته راغلې یې او غواړې چې کابل ونیسی، دا هیڅکله نشي کیدلای بلکې زه همدا نن د پکتیا د نورو قامونو د لښکرو په وړاندې تا له خپل کور څخه بهر په میدان کې په دار ځړوم او د کابل د تخت د نیولو آرمان تورو خاورو ته در سره لیږم»[2]

د قاضي محمد عمر خان ببرکزي په یادداشتونو کې چې د خپل پلار شیرمحمد خان ببرکزي له خولې یې ثبت کړې راغلي چې د زمرک خان ببرکزي په ګډون د پکتیا د قامونو مشرانو جانداد خان ته خبرداري ورکړ چې د پکتیا د

---

[1] . د زیاتو معلوماتو دپاره د بازنګری دوره امانی و توطئه های انګلیس په کتاب کې د «ناکامی های اولیه محمد نادر خان و پلان احتمالی مداخله مستقیم انګلیس ها»، «کمک های نظامی و مالی انګلیس ها در رساندن محمد نادر خان به سلطنت»، «تاکید بر مخفی نګهداشتن کمک ها و تحایف انګلیس ها به محمد نادر خان» او «بهانه سیاست بیطرفی توطئه دیګر انګلیس ها» تر سرلیک لاندې مطالبو ته مراجعه کولی شئ .

[2] . غروال، محمد عارف . د غازیانو او اتلانو یاد، ۱۴۳-۱۴۴ مخونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قامونو سره د بدۍ (دښمنۍ) پر ځای د دوې میلمه دوې ته وسپاري او د قام ننګ او غیرت وساتي. جانداد خان احمدزي د خپل قام د مشرانو خبره ومنله او جنرال محمد نادر خان یې هغوې ته وسپاره. جنرال نادر خان بیا منګلو او ځاځیو ته لاړ تر څو د وزیرو او مسعودو لښکرې هم د ځان سره راولي او هلته پاتې شو.

که څه هم دلته د جانداد خان په نوم کې غلطي پیښه شوې ده. ځکه چې خپله جانداد خان د امیر حبیب الله خان په وخت کې په ۱۹۱۴ کال کې وژل شوې و، دا وخت د هغه زوي غوث الدین خان د احمدزیو خان او د هغه ځاې ناستې و، خو د ګردیز د ستونزو په هکله د انګریزانو آرشیف ورته معلومات ورکوي.

د ګردیز د جرګې د جوړیدو نه مخکې غوث الدین خان احمدزي ګردیز ته د نادر خان او شاه ولي خان د تګ هرکلې کړې او شاه محمود خان هم نادر خان ته د هغوې د ملګرتوب اطمینان ورکړې و.

خو دوه ورځې وروسته کله چې جرګه پیل شوه، نو د خوست د قامونو له انتظاره لرې، ځینو غلجیو د غازي امان الله خان پلویتوب ښکاره کړ. دې موضوع ته د صوبې سرحد د کمیشنر په یوه رپوټ کې هم، په جرګې د موجود یوه تن له قوله، ښکاره اشاره شوې ده. جرګه د ګډوډۍ او خلکو د الې ګولې له امله پرته له نتیجې پای ته ورسیده. د هغې په سبا، مخالفو کسانو، چې غوث الدین خان هم ورسره ملګرې شوې و، د ګردیز په بالا حصار، چې د نادر خان او ملګرو د اوسیدو ځاې و، حمله وکړه. او هغوې د عبدالغني خان ګردیزي په مرسته د یوې فرعي دروازې تښتیدلي او ځانونه بیا علي خیلو ته ورسول. له بله پلوه شاه محمود خان هم چې د جانباز خان څرخي په ملګرتوب د حبیب الله کلکاني د قواوو د پرمختګ د مخنیوي په مقصد لوګر ته استول شوې و، د ماتې سره مخامخ او په شا تګ ته مجبوره شوې و.

پدې ډول وینو چې سردار نادرخان او ورونو یې ونشوکړاې خپل پلان د نقشې مطابق مخې ته یوسي. او د نادر خان او ورونو قواوو یې د اپریل، جون، اګست او سپتمبر په میاشتو کې په پرلپسې توګه د حبیب الله کلکاني له قواوو ماتې وخوړه.

**د سردار نادر خان نا امیدي او د فغانستان نه د وتلو وړاندیز**

نادر خان حتی کله چې غازي امان الله خان هم هیواد پرېښود او له صحنې ووت، د پرلپسې ماتو په نتیجه کې په بریتانوي هند کې د سیاسې پناه د اخیستلو په فکر کې و. هغه مخکې لدې چې د انګریزانو مرستې ورته ورسیږي، او د وروستنۍ هڅې په توګه د ډیورند د تېل شوې کرښې د بلې خوا د وزیرو او مسعودو د لښکرو د ټولولو اجازه تر لاسه کړي، خپله ماتې قبوله کړې او د انګریزانو نه غوښتې وو چې بریتانوي هند ته د بیرته ستنیدو د شرایطو په سر د سقاو د زوي سره خبرې وکړي.[3] هغه دغه شرایط پاړا چنار ته د حاجي محمد اکبر خان په لاس د شفاهي (خو کاغذ له مخې لوستل شوي) پیغام له لارې د مکوناچې سره شریک کړي وو. انګریزي سیاسي استازي، مکوناچې، وروسته له پاړا چنار نه په خپلو استول شوو ټلګرامونو کې ولیکل چې زه دې نتیجې ته رسیدلې یم چې د نادر خان اوسنې هدف د افغانستان نه په عزت سره وتل دي. څرنګه چې هغه خپله د

3. د انګلستان د آرشیف اسناد، ۳۱۵، ۳۲۰، او ۵۱ شمیره ټلګرامونه. L/P&S/10/1301.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حبیب الله سره خبرې کولای نشي، نو د بریتانیا د حکومت نه غوارې چې دا خبرې د ده د پاره سر ته ورسوي ، او د حبیب الله لخوا د ده د وتلو د شرایطو ضمانت وکړي. د نادر خان لخوا د افغانستان نه د وتلو پیشنهاد شوي شرایط په لاندې ډول دي:

1. د ده او پخواني رژیم د ټولو حمایت کوونکو عمومي بخښنه
2. د هغه او حاکمې طبقې د وتلو مصؤنیت
3. هندوستان ته د هغې د کورنۍ او پلویانو د منقولو شتمنیو ویستل
4. په افغانستان کې د دوی د شتمنیو د عوایدو څخه د هغوی د مصارفو ورکړه، او په عین حال کې د بریتانوي هند لخوا د هغوی د مصارفو ورکول.

د انګلستان د آرشیف د اسنادو له مخې، په لوګر کې د شاه محمود خان د ماتې او د مشرقي په ولایت کې د هغه د بل ورور هاشم خان د سپتمبر د میاشتې تر ماتې وروسته د نادر خان د بخت ستورې مخ په غورځیدو و ، خو څرنګه چې انګریزانو نه غوښتل چې هغه میدان خوشې کړي، د ډیورنډ د کرښې د بلې خوا د وزیرو او مسعودو د لښکرو نه د کار اخیستلو سره یې موافقه وکړه. تر هغې د مخه انګریزانو پدې جګړه کې د قبایلو د ګډون او ټولې قبایلي سیمې کې د جګړې نه ویره درلوده. د قبایلو پولیټیکل ایجنټ ته لارښوونه وشوه چې افغانستان ته د افرادو او قومونو د لښکر د ورتګ مخه ونه نیسي. د هند د حکومت د غیر مستقیمې اجازې خبر په پوره چټکۍ سره د قبایلو په منځ کې خپور شو او د وزیرو او مسعودو قومي لښکرې د نادر خان د مرستې د پاره افغانستان ته ننوتلې.[4]

د استا اولسن په وینا ، «د آرشیف په منابعو کې موجود اسناد مکمل تصویر نه وړاندې کوي، خو دا څرګنده ده چې د [بریتانوي] هند حکومت لږ تر لږه پیسې او وسایل ورته برابر کړي او د پولې نه د مسعودو او وزیرو د لښکر د تیریدو سره یې مخالفت نه دئ کړی».[5]

**د نادرخان لخوا د غازي امان الله خان د ملاتړ د عهد او قسم د ماتولو په سر د زمرک خان ځدراڼ خپګان**

د سپه سالار نادر خان سره د لومړي ځل د پاره د ببرکزي د کورنۍ د مشر، زمرک خان ځدراڼ په مناسباتو کې سوړوالي او خپګان هغه وخت پیدا شو ، کله چې سردار محمد نادر خان کابل ته په رسیدو ، د اولسي مشرانو سره د خپلو هغو وعدو او قسمونو او د افغانستان خلکو ته د خپلو چاپي خپرو شوو اعلامیو په خلاف ، د خلکو د خبرتیا او موافقې نه پرته په غیر قانوني توګه د دسیسې له لارې د یوې غونډې په ترځ کې ځان د افغانستان د پاچا په توګه اعلان کړ.

پدې هکله د غازي ببرک خان د لمسي د ثبت شوو اسنادو په حواله ښاغلي محمد عارف غروال لیکي «کله چې شاه محمود خان او شاه ولي خان د کابل ارګ ونیو او بیا جنرال محمد نادر خان د قامونو له مشرانو سره یو ځای

4 . پاولادا، لیون (۱۹۸۹). اصلاحات و انقلابات ۱۹۲۹، دباقي یوسفزي ژباړه، ۱۹۹ مخ.

5 . اولسن، استا (۱۹۹۵). Islam & Politics Afghanistan، ۱۷۲ او ۱۷۳ مخونه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ارګ ته ننوت، د قضاوتپوه قاضی محمدعمر ببرکزي پلار وکیل شیر محمد خان ببرکزي ته یې په کابل کې د بهرنیو سفارتونو د امنیت چارې وسپارلې او هغه په پوره نظم او دسپلین دغه درنده وظیفه سنبال کړه.

د وکیل شیرمحمد خان ببرکزي په ویناخه وخت چې د شپې ډوډۍ ته کیناستل له جنرال محمد نادر خان سره په دسترخوان باندې شاه جي[6]، الله نواز خان، نواب خان لوګرې، زمرک خان ببرکزي او زه شیرمحمد خان ببرکزي حاضر وو. د ډوډۍ د خوړلو په جریان کې شاه جي وړاندیز وکړ چې حالات سم نه دي، حبیب الله کلکاني ژوندي او غرونو ته ختلي دئ، نو په دغه شان کړکیچنو حالاتو کې د غازي امان الله خان راغوښتل یو ستونزمن کار دئ او دا امکان نه لري چې پدې بیړنیو حالاتو کې اعلیحضرت امان الله خان ته منتظر پاتې شو. زما په نظر غوره به دا وي چې جنرال صاحب محمد نادر خان د سلطنت چارې سنبال کړي، نو محمد نادر خانه مبارک دې شه! له ده سره سم الله نواز خان هم د مبارکۍ آواز اوچت کړ، نواب خان لوګري هم وویل چې سلطنت دې مبارک شه. خو چې جنرال محمد نادر خان زمرک خان ببرکزي ته وکتل، هغه چوپتیا غوره کړه او هیڅ یې ونه ویل او پدې توګه د شپې جوړه شوې غونډه ختمه شوه.

په همدې شپه زمرک خان ببرکزي له څو نورو قامي مشرانو سره خوست ته روان شو. د وکیل شیر محمد خان د وینا له مخې دی مجبور ؤ چې له خپل لښکر سره کابل کې پاتې شي، ځکه چې د بهرنیو سفارتونو د امنیت د ساتنې درنده وظیفه ورسپارل شوې وه. خو د غرمې ډوډۍ له پاره چې ارګ ته ورغی، نور مشران هم موجود وو، ځکه نو محمد نادرخان ورڅخه وپوښتل چې زمرک خان چیرې دی او ډوډۍ ته ولې رانغی؟ ده په ځواب کې ورته وویل چې صاحبه! هغه لږ ناروغ و او د درملنې له پاره خوست ته ولاړ، خو محمد نادر خان یې په ځواب کې وویل: ناروغان خو د درملنې له پاره کابل ته راځي او زمرک خان خوست ته ولاړ؟ دی باید حاضر وای ځکه زه نن د قومونو ټولو مشرانو ته لوی لوی منصبونه ورکوم. خو زمرک خان چې په دې کسانو کې دی هغه حضور نه لري. بیا محمد نادر خان د قومونو مشرانو ته په لاندې ډول منصبونه اعلان کړل:

1. د ځاځیو د قام مشر سربلند خان ته د نایب سالارۍ رتبه.
2. د منګلو د قام مشر زلمي خان ته د نایب سالارۍ رتبه.
3. د ځدرانو د قام مشر زمرک خان ببرکزي ته د نایب سالارۍ رتبه.

همدارنګه یې د وزیرو ځینو مشرانو ته د نایب سالارۍ او ځینو نورو قامي مشرانو ته د فرقه مشرۍ رتبې اعلان کړې».[7]

---

6 . د نادر شاهي دورې هرکاره او د انګریزانو د دغه جاسوس اصلي نوم په ګاډي وان مشهور قربان حسین هندی او مستعار نوم یې سیدعبدالله شاه جی همدانی و.

7 . غروال، محمد عارف . د غازیانو او اتلانو یاد، ۱۴۵-۱۴۷ مخونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د نادر خان لخوا د قامي مشرانو د غولوني او عهد شکنۍ دغي موضوع ته د «سلطنت پر سر د مشرانو دوګانګي او د نادر خان عهدشکني» او «محمد نادرخان ته د هغه د عهد شکنۍ یادونه» تر سرلیک لاندې د اروانباد جرنیل یارمحمد خان وزیري د خاطراتو په ۳۲۹ او ۳۳۳ مخونو کې هم اشاره شوې ده.

د ببرکزي د کورنۍ په یادداشتونو کې بیا په مهر شوي قرآن د حبیب الله کلکاني او د هغه د ورور حمیدالله ارګ ته رابللو ته هم اشاره شوې ده. «یو شپه د ډوډۍ پر مهال چې د شوربازار حضرت صاحب هم موجود و، حضرت صاحب محمد نادر خان ته وویل که حبیب الله خان کلکاني له خپل ورور ... سره راوغواړې غوره به وي، ځکه یو خو به هغه وګورو او بله دا چې زمونږ سره به یو ځای ډوډۍ وخوري. د حضرت صاحب خبره یې ومنله ...او ډوډۍ یې یو ځاې په یوه دسترخوان باندې سره وخوړه. د ډوډۍ تر خوړلو وروسته حبیب الله خان کلکاني وویل: رښتیا خبره دا ده چې پادشاهي ډیر دروند بار دئ او ما د سلطنت دروند بار پخوا نه و لیدلی، خو اوس زه ژمنه کوم چې د ضرورت په وخت کې د وطن هر خدمت ته تیار یم. تر دې بحث او ډوډۍ خوړلو وروسته دواړه خپلې کوټې ته ولاړل، خو دوه ورځې وروسته دواړه ورونه د افغانستان بانک او ملي بانک د دیوالونو تر څنګ په داسې حال کې ولیدل شول چې وژل شوي وو. د حبیب الله خان کلکاني او دده د ورور تر وژلو وروسته وکیل شیر محمد خان هم له خپلو کسانو سره خوست ته ولاړ او نادر خان پدې هم ورخخه خپه شو چې لومړې زمرک خان او بیا یې ورور شیرمحمد خان یو پر بل پسې خوست ته لاړل.[8]

د کابل د نیولو د جریان لنډیز داسې و چې شاه ولي خان د پکتیا د جنګیالیو یوې قوې او پنځه زره وزیري لښکر په ملګرتیا د ۱۳۰۸ کال د میزان په شپږمه نیټه د لوګر خوشي ته ورسید. جنرال محمد عمر خان (سور جرنیل) چې دمخه د غازي امان الله خان نه مرور او دا محال د لوګر په درویش کې د میشتو سقوي قواوو قوماندانی په لاس کې درلوده د نادر خان سره خپله موافقه اعلان او وویل چې د هغه د لښکرو مخه به نه نیسي. د څو ورځو په موده کې د حبیب الله لښکرې په پرلپسې توګه پر شا شوې او شاه ولي خان هم د یوه لښکر په مشرۍ تر ټولو لومړې د چهار آسیاب له لارې ځان کابل ته ورسولو او ځانته یې د «کابل د فاتح» لقب په برخه کړ. شاه محمود خان چې د دوهم لښکر په مشرۍ د حبیب الله ماتې شوې قواوي تعقیبولې، د هغه په سبا د ریشخورو او دارالامان له لارې کابل ته ورسید. نادر خان هم بله ورځ، وروسته له هغې چې د کابل د نیولو او حبیب الله د تیښتې ډاډه شو، چهلستون ته لاړ.

سید قاسم رشتیا په خپلو خاطراتو کې لیکي چې سپه سالار [نادرخان] مخکې لدې چې کابل ته داخل شي په چهلستون کې تم شو او د کابل مخور یې لیدو ته ورغلل چې په دوی کې یې پلار او تره [سید حبیب خان او میر محمد هاشم خان] هم شامل وو. هغه زیاتوي لکه چې د خپل پلار او په مجلس کې د نورو حاضرو کسانو څخه اوریدلي، سپه سالار په مجلس کې ګډون کوونکو خلکو نه د خپل موقف او هیواد د راتلونکي مشرتابه په هکله وپوښتل. ډیرو حاضرو کسانو هغه د سلطنت د مقام د نیولو دپاره تر ټولو مناسب شخص و بللو. خو څو د ګوتو

---

8. هماغه منبع، ۱۴۷-۱۴۸ مخونه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په شمیر کسانو چې په هغوې کې محمد ولي خان د سلطنت وکیل، شیر احمد خان د شورا رئیس او میر هاشم خان د مالیې وزیر شامل وونظر ورکړ چې مناسبه به دا وي چې د اوس دپاره سپه سالار د سلطنت د وکیل په توګه وپیژندل شي، او د پادشاهۍ د موضوع فیصله لویې جرګې ته پریږدي.[9]

د یادونې وړ ده له دغو دریو کسانو څخه نه یوائې هیڅ یوه ته د نادر خان په کابینه کې برخه ورنکړ شوه، بلکې د سردار شیر احمد خان نه پرته چې محمد زي ، د نادر خان د تره زوي او د خور میړه و ، دواړه نور کسان ووژل شول (میر هاشم خان په مرموزه توګه د نادر شاه د تخت کیناستو نه یوه شپه وروسته او محمد ولي خان په زندان کې د یوې مودې تر تیرولو وروسته ).[10]

سردار نادر خان په بله ورځ د چهلستون نه په فاتحانه توګه کابل ته ننوت او د باغ علی مردان سیمې ته چې یو وخت یې د غور نیکه، سردار سلطان محمد خان طلایي ځای و ، ښکته شواو هلته یې د خپلو نږدې خپلوانو سره چې په دوې کې د شیر احمد خان زکریا او فیض محمد خان زکریا په شان په استعماري دستګاه پورې تړلې څو کسان هم شامل وو. د راتلونکي پاچا د ټاکلو د مشورتي غونډې ترتیبات، چې په حقیقت کې یې د خپلې تاج پوشۍ مراسم وو ، ونیول او په پای کې یې د یوې مضحکې او ساختګي صحنه سازۍ په ترځ کې د ۱۹۲۹ کال د اکتوبر د میاشتې په ۱۷ مه نیټه د سلام خانې په تالار کې د یو شمیر په لاس راټول شوو کسانو او ملګرو قامونو د مشرانو په حضور کې تر سره کړل.[11]

له شواهدو داسې ښکاري چې تر لنډې مودې خپګان وروسته د نادر شاه او ببرک زي دواړو کورنیو اړیکي بیرته سره ښه شول. دا چې د غازي ببرک خان بل زوي یاور عبدالله خان هم د نادرشاه او هم د ظاهر شاه د یاور په توګه پاتې شوي او حتی د نادرشاه د وژل کیدو په وخت کې زخمي شوي هم و ، د دغه ښو اړیکو او متقابل اعتماد ننبه ده. خو دا اړیکي یو ځل بیا د دوهمې نړیوالې جګړې او د افغانستان نه د جرمنیانو او ایټالویانو د ویستلو دموضوع د پاره د رابلل شوې لویې جرګې په ترځ کې له دوستۍ تر شکمنۍ او بیا د غازي ببرک خان د زامنو په کورونو او کلاوو د حکومت د بریدونو په نتیجه کې په دښمنۍ بدل شول. د ببرک زي د کورنۍ د یادداشتونو له مخې د محمد نادر خان لخوا د غازي امان الله خان د بیرته راوستو د ژمنې د امضا شوې عظیم الشان قرآن سرنوشت له هغې وروسته معلوم نه شو ، کله چې د خانداني حکومت لخوا په خوست کې د زمرک خان په کور یرغل وشو او ټول شیان یې تالا شول. خو د سقاو د زوي حبیب الله کلکاني سره د قرآن کریم په پاڼه د امضا شوې روغې جوړې د قسم تاریخي سند لا تر اوسه هم په انټرنیټ کې موجود دئ.

---

9 . رشتیا، سید قاسم (۱۹۹۷)، ۹ مخ.

10 . زماني، عبدالرحمن (۲۰۱۳). بازنګري دوره اماني و توطئه هاي انګلیس، ۴۷۰ مخ .

11 . سیدال یوسفزي (قاسم رشتیا) ۱۳۷۸. نادر چګونه به پادشاهي رسید؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ



پر قرآن مجید د نادر خان د لاسلیک تاریخي سند

(نور بیا )

(



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ